# دافغانستان دخلکو دنوی ګوند انټرنیټی پاڼې پرانیستل

د افغانستان د خلکو نوی ګوند په لومړی سر کی ځآن د ربنتینو پرګنیزو، نیاوپالو څواکونو او ځانګړی شخصیتونو ترمنځ د نښلولو کړئ بولی او له همدی پرمختلونکی او کارنده حجري له لاری به خپلو هڅو ته دهېواد ټولیز پرمختګپال څواک ته د اوسنی سیاسی اکر لپاره د یو بلونج ( الترناتیف ) تر کچی پراختیا ورکړی او پیاوړی کړی، ځکه چی ګوند په دې آند دی چی تر څو په سیاسی اکر کې د پرګنو د ګتواو غوښتنو د ساتلولپاره یو لوی ګوند ښکاره او میدان ته ور نه دانګی، دا اکر به بدلون ونه مومی.

د افغانستان د خلکو نوی ګوند دتاریخ په اوږد کې د افغانستان د نیاو پالو څواکونو له مبارزو نه اغیزمن دی او خپلو مبارزوته به د هماغو نیاوپالو جګړو په بهیر کې سمون ورکوی. د افغانستان خلکو نوې ګوند هڅه کوی چې د هېواد دېموکراتیک غورځنګ په توګه دبیوزلو او زیارکښو پوري تړلی دیو څواکمن او ستر سازمان په جوړولو کې خپل خانګړی او خپلواک دنده تر سره کړی. ګوند به په هر هغه خوځښت کې چی د ټولنې د زیارکښ انسان په ګټه، ددېموکراتیکو او څواکونو غښتلی کیدل، دربښتینې دېموکراسۍ پلي کېدل، د خپلواکی او ملی څواکمنۍ د ټینګښت او د هېواد خاوری د ساتنې په ګټه ترسره کیږی، په ژمنتیا او پر له پیبلې توګه ګډون وکړی.

دافغانستان د خلکو نوی ګوند د دموکراتیک څواک د پرونی ایدیولوژیک نظام پر وړاندی بدلون موندونکی، نیوکیزاو کره کتنیز چلند په درلودلو سره په دی آند دی چی نړیوال عملی لیدلوری د یو پرانیستی، بدلون منونکی او پرمختګپال تیوری ګانو په توګه د نړی د پرمختګپالو څواکونو په واک کې دی، خو په دولتی فلسفو ددی لیدلورو بدلول او د هغه نه د یو څواکمن ګوند ایدیالوژی جوړل تر ټولو لوی بخول وو چی کیدای شول هغه ګوند ورسره مخامخ شی. یو وچ

کلک آندیز چوکات ته ددی لیدلورو بدلول هغه ناخوالی وی چی د همدی لیدلوری نه د دفاع تر نامه لاندی په بشری ضد بخولناک اکرلاس پوری شو.

د افغانستان دخلکو نوی گوندهر ډول ایدلوژیک پوړیز چال چلند له بیخه نه منی، خپلی څیړنی او کارنده هلې ځلې به د انسان او په خاصه توگه د مظلوم انسان په گټه، د ټولنی د ربنتینی اکر په پام سره د یو علمی لیدلوری پر مټ و دروی.

د افغانستان د خلکو دنوی گوند انټرنیټی پانه به د هیواد د ټولو کینو نیاوپالو او دموکراتو ځواکونو پر مخ پرانیستی وي. ددې پاني چلونکی له ټولو ملگرو،دوستانو، او د هیواد کین اړخو پلویانو ته په مینه بلنه ورکوی چی د افغانستان د خلکو د نوی گوند پانه خپله پاڼه وبولی او دغه پانه د هیواد د زیارکښو ځواکونو دغوښتنو او اوسنی پرمختلونکی آندیزو په هینداره واړوی.